الحاج فضل الله رشتین ۲۰۱۱/۰۸/۰۴

# په کابل کې د خوراکي موادو نرخونه

د روژې مبارکه میاشت ده او په کابل کي د خوراکي موادو نرخونه آسمان ته ختلي دي. د پوښتني ځوک نشته. یو کیلو غوښه ۳۲۰ افغانی، یو کیلو رومي۷۰ افغانی ، یو کیلو بادرنګ ۷۰ افغانی، یو کیلو انګور۱۰۰ افغانی همدا شان نور خوراکي مواد همداسي دي.
نه پوهیږو چي دا غریب خلک به څنګه ګذاره کوي.
باور وکړئ کومه قیمتي چي په کابل او نورو ولایاتو کي ده هغه په دوبی، سعودي عربستان او کویت کي هم نشته. ما پخپله په کویټ کي ډیر وخت تیر کړی دی، هلته د خوراکي موادو بیې ډیرې ټیټې دي او بیې د حکومت له خوا ټاکل کیږي او کنترول کیږي. په ټولو سوپرمارکیټونو کي د موادو بیې یو شان دي. په کابل کي داسي نه ده، په یو دکان کي یو نرخ او په بل کي بل نرخ دی.
په کویټ کي دوه لیټره د جوارو غوړي په ۱۵۰ افغانی خرڅیږي خو دلته یي په دې نرخ نه ورکوي.
په کویټ کي د ښوونځي د یو معلم ټیټ معاش ۶۵ زره افغانی دی په داسي حال چي چي دلته ټیټ معاش ۵ زره افغانی دی.
د خدای لپاره دا څه حال دی؟ نه پوهیږو چي دا حکومت څه کوي؟ دا ښاروالي او د تجارت وزارت د څه لپاره دي؟
نه پوهیږو چي دا حکومت ولي د فیل په غوږ کي ویده دی.
د خوراکي موادو په څنګ کي د تیلو قیمت هم تر کنترول لاندې نه دی. حکومت وایي چي د تیلو بیه في لیتر ۵۷ افغانی ده خو د کابل د تیلو په ټانکونو کښي تیل لیټر په ۶۱ افغانی خرڅیږي.
ساختماني مواد هم ډیر ګران دي. د ځمکو قیمتونه لوړ او د کورونو کرایې هم ډیرې لوړې دي.
حکومت ته ښایي چي د خلکو د ستونزو د رفع کولو په خاطر لاس په کار شي.
د نرخونو د کنترول په خاطر دا لاندني وړاندیزونه اړین دي :

۱ - د ښاروالی له خوا د خوراکي موادو یوه موزونه نرخنامه جوړول او هغه عملي کول.
۲ – د هغو دکاندارانو د دکانونو تړل چي د ټاکلي نرخنامي څخه سرغړونه کوي.
۳ - په ټولو دکاندارانو قانون تطبیقول.
۴ - په ښاروالی او د تجارت په وزارت کي د اداري فساد ختمول.
۵ - کار اهل کار ته سپارل.
۶ - له عدل او انصاف څخه کار اخستل.
۷ - خدای پاک په هر وخت او هر ځای کي حاضر او شاهد ګڼل.
۸ - له صداقت او ایمانداری څخه کار اخستل.
۹ - د مسئولیت احساس کول.
۱۰ – په زړه کي رحم او ترحم لرل.
۱۱ - په مهمو ارتزاقي موادو د محصول کمول.
۱۲ - زراعت ته توجه کول او بزګر تشویقول.
۱۳ – د رشوت ختمول.
۱۴ – د لویو لار و د امنیت نیول.
۱۵ - له خدای څخه یره کول.
۱۶ – د ولس لخوا د نرخونو د لوړوالي په خاطر د غږ پورته کیدل. که ولس خپل غږ پورته نه کړي نو نرخونه به همداسي لوړیږي.

ما علینا الا البلاغ


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ